بې‌شکه له تاسو څخه تر ټولو خوښ او د قیامت په ورځ زما) مجلس ته تر ټولو نږدې کسان هغه دي چې غوره اخلاق ولري

له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (بې‌شکه له تاسو څخه تر ټولو خوښ او د قیامت په ورځ زما مجلس ته تر ټولو نږدې کسان هغه دي چې غوره اخلاق ولري، او تر ټولو ناخوښ او زما مجلس نه تر ټولو لرې کسان د قیامت په ورځ: ثرثارون – ډېر خبرې او بې ځایه خبرې کوونکي (کړتو)، متشدقون – هغه کسان چې په تکلف او د وښکېو په حرکت سره خبرې کوي، ځان ښیي او متفیهقون – هغه کسان چې په غرور او تکبر سره خبرې کوي، صحابه کرامو وویل: اې د الله رسوله! مور ثرثارون او متشدقون پېژنو، خو متفیهقون څوک دي؟نبي کریم وفرمایل: متفیهقون یعني کبر کوونکي (هغوی چې په تکبر او غرور په ډکه خوله ویناوې کوي).

[صحیح دی] [الترمذي روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مور ته خبر راکړی چې: په دنیا کې تر ټولو خوښ خلک د هغه لپاره هغو دي چې غوره اخلاق ولري او د قیامت په ورځ به هم همدوی د هغه مجلس ته تر ټولو نږدې وي. او هغه ته تر ټولو ناخوښ خلک هغه دي چې په دنیا کې بد اخلاق ولري، او د قیامت په ورځ به له هغه څخه تر ټولو لرې وي لکه: (الثرثارون) ډېرې خبرې کوونکي بې‌ځایه ژبه چلوونکي چې له حق څخه وځي، او (المتشدقون) په تکلف او فصاحت سره خبرې اوږدوي او ځان ته اهمیت ورکوي، پرته له دې چې احتیاط او ځان وساتي، (المتفیهقون) صحابه کرامو وویل: ای د الله رسوله! ثرثارون او متشدقون خو مو وپېژندل، نو دا (المُتفیهقون) څوک دي؟ نبي وفرمایل: دا کبرجن خلک دي، هغه کسان چې په خلکو ملنډې وهي او په ډکه خوله لوی لوی خبرې کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5802